# د عدل ریگولېشنز د نفاذ نه پس څۀ پکار دي؟

ارباب محمد طاهر خان خليل

نوټ: په ملاکنډ ډويژن کښې د نظام عدل ريگولېشنز د نفاذ نه سمدستي پس د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي سېکرټري اطلاعات محمد طاهر خان خليل په پېنځلسم اپرېل ۲۰۰۹ يو پرېس کانفرنس کړے وۀ. د موضوع د اهميت په خاطر چې هغوي په دغې پرېس کانفرنس کښې څۀ وئيلي وو هغه مونږ د پښتون مجلې گرانو لوستونکو ته وړاندې کوو.



لکه چې تاسو ته معلومه ده کله چې عوامي نېشنل پارټۍ د پښتونخوا صوبې واگې تر لاسه کړې نو هغه وخت کښې سالمه پښتونخوا د اور په لمبو کښې راگېره وه، هر خوا دهشت گردي خوره وه، خودکُش چاؤدنې رواني وې او د امن و امان تباه کونکو عناصرو د پښتنو دا غېرتي خاوره په سرو وينو لمبوله او هېڅ يوه ورځ داسې نۀ تېربده چې پکښې به د بې گناه پښتنو په وينه دا سيمه لمبولې نۀ شوه. هم دا وجه وه چې کله د دې صوبې وزير اعلي امير حېدر خان هوتي د حکومت واک اختيار په لاس کښې واخستو نو چې کوم وړومبے پرېس کانفرنس ئې کړے وۀ په هغې کښې ئې ښۀ په وضاحت او صراحت سره وئيلي وو چې د امن و امان راوستل به زمونږ په ترجيحاتو کښې شامل وي او دا خبره ئې ډېره برملا کړې وه چې په هر قيمت وي مونږ به په دې پښتنه سيمه کښې امن راولو.

دا د الله پاک ډېر لوئے احسان دے چې عوامي نېشنل پارټۍ له ئې دا موقعه ورکړه چې د امن و امان قائمولو دپاره په پخو بنيادونو داسې کوششونه شروع کړي چې په راروان وخت کښې د مستقل امن ذريعه جوړه شي.

د ۹/۱۱ نه پس د پاکستان حکومتونو په مختلفو وختونو کښې د امن

قائمولو په غرض د خبرو اترو او مذاکراتو خبره کوله خو په عملي توګه ئې د مذاکراتو نه ډډه کړې وه. په دې کښې يوه لويه وجه دا هم وه چې يو خو تېر شوې حکومتونو ته عوامي نمائندګي حاصله نۀ وه او دوېم لوئے سبب ئې دا وۀ چې هغه حکمرانان د قانوني جواز د محرومۍ په شان کمزورۍ لرلو په وجه د هغې ګټې اخستو نه هم محرومه وو، کومه چې د مذاکراتو د کاميابۍ او د دواړو ډلو د اعتماد دپاره ضروري ګڼلے شي. دا صرف عوامي نېشنل پارټي وه چې په عامو انتخاباتو کښې ئې د درونډ اکثريت حاصلولو په ذريعه نۀ صرف د عوامو اعتماد بحال کړو بلکې هغې خلقو هم پرې د مکمل باور اعلان وکړو چا چې د قوانينو نه تر دې حده د مايوسۍ اظهار کړے وۀ چې د رياست په مقابله کښې د رياست تاثر ئې ورکولو او چې د چا وسله را خستل د ټول ملک د عوامو دپاره د فکر سبب جوړ شوے وۀ. په عوامي نېشنل پارټۍ د اعتماد او کلک باور وجه وه چې په سوات کښې مولانا فضل الله او د هغۀ ملګرو سره زمونږ د مشرانو څو څو ځله کامياب مذاکرات وشو او د هغې په نتيجه کښې په يوه سمجوته دستخطونه هم وشو. هر څو کۀ دغه سمجوته په دې رنګ کښې د نفاذ مرحلې ته ونۀ رسېده خو هم دغه سمجوته په اصل کښې ملاکنډ ډويژن کښې د نظام عدل او د امن د قيام وړومبۍ پوړۍ جوړه شوه او هېڅوک دې د دې نه انکار نۀ کوي چې په سوات کښې د شريعت د نفاذ مطالبه کونکو او وسله بردارو سره کۀ زمونږ حکومت معاهده نۀ کولې نو د عدل د نظام دا خوب به چرې هم رښتيا شوے نۀ وۀ. دا وئيل بېخي صحيح او حق دي چې سوات کښې د طالبانو سره زمونږ شوې معاهدې د دې نظام عدل بنياد وګرځېدې.

عوامي نېشنل پارټي يوه اصولي ډله ده او دا خبره د هيڅ دليل محتاجه نۀ ده. زمونږ پارټۍ همېشه اصولي سياست کړے دے او د اصولو په خاطر ئې د اقتدار قربانۍ بيا بيا ورکړې دي. د ۱۹۸۸ نه تر ۱۹۹۹ پورې موده خو به تاسو ته ياده وي، څو څو واره عوامي نېشنل پارټۍ حکومت له لته ورکړې وه او د اکثريت باوجود ئې حکومت قبول کړے نۀ وۀ او خپلو قامي مفادو له ئې فوقيت او اوليت ورکړے وۀ.

په ملاکنډ کښې د نظام عدل نفاذ د امن ضامن دے، د مولانا صوفي محمد چې د تحريک نفاذ شريعت محمدي امير دے او په سوات کښې د نفاذ شريعت غوښتنه کونکي چې د ټولو خلقو دپاره يو شان د احترام قابل دي او د صوبائي حکومت ترمنځه اعتماد په وجود کښې راغلے دے او په سياست کښې د ټولو نه زيات اهم څيز د اعتماد او باور نه سېوا څۀ کېدے نۀ شي. له دې وجې نه چې د دې نظام عدل او نفاذ شريعت په حواله ځنې خلقو سازشونه جوړول شروع کړل او د دې ماحول د خرابولو دپاره ئې ناکاره حرکتونو ته لاس واچول. چې د امن معاهدې نه پس په سوات او بيا ټوله صوبه کښې په نظر راتلل شروع شوي وو. نو په دې عدل ريګوليشنز د صدر مملکت آصف علي زرداري د دستخط مسئله رامنځ ته کړې شوه او داسې تاثر ورکول ئې شروع کړل چې دا معاهده د وفاق مرسته نۀ لري. تاسو ته به ياد وي چې کله د شهيد اېم پي اې عالمزېب خان په دېره کښې زمونږ محترم قائد اسفنديار ولي خان نه په دې لړ کښې پوښتنه وشوه

نو د هغوي جواب دا وؤ چې د دې معاهدې د کامیابۍ دپاره مونږ تر هر څۀ تېرېدے شو او هر څۀ کولے شو او کۀ عوامي نېشنل پارټي د حکومت نه په وتلو مجبوره کړې شي نو هم ئې هيڅ پروا نۀ کوو. دا هم هغه لاره وه چې د عوامي نېشنل پارټۍ مشرانو د نظام عدل رېګولېشنز قامي اسمبلۍ ته په لېږلو او د هغوي په اعتماد کښې د نۀ اخستو له وجې د حکومتي اتحاد نه د وتلو فېصله وکړه او نن چې په دې عدل رېګولېشنز صدر مملکت دستخط کړے دے يا قامي اسمبلۍ د دې منظوري ورکړې ده نو په دې کښې د عوامي نېشنل پارټۍ د مشرانو په خپلو اصولو ټينګ پاتې کېدل او هرې سختې ته تياريدل ببخي نظر انداز کېدے نۀ شي. خدائے مۀ کړه کۀ چرې داسې نۀ وې شوې نو دې سره به نۀ صرف د امن اميدونه خاورې شوې وو بلکې د دې په نتيجه کښې به ملک د سياسي عدم استحکام په لور روان شوے وې. ځکه چې عوامي نېشنل پارټي په داسې حالاتو کښې د خاموشه کښېناستو پاليسي نۀ خپلوي بلکې د امن د قيام دپاره خپلې هلې ځلې او سياسي جدوجهد په هره ممکنه طريقه کوي.

دا د الله پاک شکر دے چې قامي اسمبلۍ د نظام عدل توثيق وکړو او د پښتونخوا د عوامو د اميدونو خيال او عزت ئې وساتلو. مونږ د سوات امن معاهدې په رڼا کښې د دې نافذ شوي عدل رېګولېشنز په لاره کښې د جوړو کړو شوو خنډانو په لرې کېدو ټول قوم ته مبارکي ورکوو. دا د معاهده کونکو دواړو ډلو اخلاص وؤ چې ټول مشکلات ئې د منځه لرې کړل. په دې چې هر څومره شکر ادا کړے شي نو کم به وي. خو په حقيقت کښې اصلي امتحان اوس شروع شو. د نظام عدل رېګولېشنز کاميابي صرف د شرعي عدالتونو د فېصلو په نفاذ منحصره نۀ ده بلکې سوات او په ټولو خواوشا علاقو کښې به معاشي او معاشرتي بحالي هم د دې نظام په برکت يقيني کول وي. د سکولونو د جوړولو کار به شروع کول پکار وي، اصلي او حقيقي اعداد وشمار به راغونډول غواړي او د متاثره خلقو امداد او د هغوي بحالي به سر ته رسول پکار وي. په سوات کښې د تجارت، سياحت ، تعليم او صحت او نورو اهمو شعبو کښې د شوو نقصاناتو اندازه حکومت ته ښه معلومه ده او د حکومت دا اراده ده چې اوس هلته د امن د قيام خواهش بې د څۀ شکه د دواړو ډلو نه زيات عوام لري او دې له عملي شکل ورکول پکار دي. زمونږ يقين دے چې سوات کښې به د امن د قائمېدو او د شريعت د نفاذ د تاريخي ګام سره د سوات د ترقۍ لارې پرانستې شي او هغه تکليفونه او اذيتونه به د همېشه دپاره دفن کړے شي کوم چې د سوات او خواوشا خلقو تېرو څو کالو کښې برداشت کړي دي. مونږ دا اميد هم لرو چې د امن او امان د دې ماحول پوره اثر به د صوبې په نورو مختلفو سيمو هم پرېوځي او د ترقۍ، سوکالۍ او ابادۍ کومه ابجنډا چې عوامي نېشنل پارټي لري د هغې د تکميل په لاره کښې حائل خنډان به هم ختم شي.

په تېرو څو کالو کښې چې د سوات د خلقو کوم نقصان او زيان شوے دے هغه ډېر زيات دے. بې شمېره خلق په خپل ملک کښې مهاجر شوي دي، بې شانه ډېر سکولونه، هسپتالونه او نور عمارتونه تباه کړي شوي دي. د متاثرينو بحالي او د هغوي امداد کول او د بربادو شوو عمارتونو بيا جوړول

يوازې د پښتونخوا حکومت د وس خبره نۀ ده. هغه ملکونه او قوتونه چې په دنيا کښې د امن راوستو دپاره جنګيږي د هغوي دا فرض جوړيږي ځکه چې په دغې جنګ کښې هغوي سره څومره قربانۍ د دې سيمې خلقو ورکړې دي هغه ډېرې زياتې دي. دوي له پکار دي چې په دې لړ کښې د صوبائي حکومت سره پوره پوره مرسته وکړي چې د دې وطن نه يو ځل بيا جنت نظير وطن جوړ شي. دغسې وفاقي حکومت له هم پکار دي چې په سوات کښې د امن د بحالۍ او دلته د ترقياتي کارونو دپاره پاخۀ ګامونه پورته کړي.